Federal Ministry
for Economic Cooperation
and Development

# د افغاني مالکیت پیاوړئ کول

## د افغانستان سره د پراختیایي همکارۍ په اړه د آلمان دریځ



د ۲۰۱۸ کال ۳مه گڼه

د آلمان د اقتصادي همکاریو او
پراختیا وزارت (BMZ)

زمونږ دریځ

bmz.de

# محتويات

په افغانستان کې وضعيت ..................................................................... ۲
زمونږ د کړنو چوکاټ .................................................................................. ۳
د اصلاحاتو د هڅونې په توګه زمونږ ملاتړ .................................................. ٤
زمونږ د کړنو مؤخه او ابزار ..................................................................... ۵
د همکارۍ د لومړيتوب ډګرونه چې مونږ ورځنې ملاتړ کوو ................................ ۵
مونږ د ښې حکومتولۍ څخه ملاتړ کوو ......................................................... ۵
مونږ د پايښتونکي اقتصاد د پراختيا او د کارجوړونې د هڅو څخه ملاتړ کوو..... ٦
مونږ د ښارونو د پراختيا او د ولسواليو د بيخبناوو څخه ملاتړ کوو..................... ۷
د کړنې اصول: زمونږ د کار څرنګوالی.............................................................. ۹

آلمان په خپل هوډ ولاړ دی او په راتلونکي کې به هم د افغانستان د ملکي بیارغوني د پاره د ډیرو مالي مرستو په برابرولو د دې هیواد څخه د پراختیایي همکارۍ له لارې ملاتړ وکړي. د ۲۰۰۱ ۱۳۸۹کال راهیسې افغانستان د پام وړ پرمختګ کړی دی خو بیا هم پایښتونکي اقتصادي او ټولنیزې پراختیا، سولې او ثبات ته اړه لري.

د افغانستان حکومت په هیواد کې د یوه ښکاره او عمده بدلون دنده په غاړه لري، خو په دې ډګر کې د نړیوالې ټولنې اوږدمهالې مرستې او ژمنې ته اړتیا ده. د افغانستان لپاره د آلمان د فدرال حکومت په ژمنه کې پراختیایي همکاري یو مهم رول لوبوي.

د افغانستان سره د پراختیایي همکارۍ مؤخه داده چې د خلکو د ژوند شرایط او راتلونکي لرلیدونه په تلپاتې توګه سمون ومومي او ښوزلیتوب، د هیواد څخه تیښته، تاوتریخوالی او افراطیت له منځه ولاړشي. له همدې امله، د آلمان پراختیایي همکاري د اداري فساد په وړاندې مبارزې، د نجونو او میرمنو ودې، د افغانستان د مدنیې ټولنې پیاوړی کولو، په عامه اداره کې د اصلاحاتو راوستلو او د خصوصي سکتور د کړنو د پاره د توان ورکوونکي چاپیریال سمون ورکولو ته ژمنه ده.

د آلمان پراختیایي همکاري به په راتلونکي کې په دریو ډګرونو کې متمرکزه وي چې د افغان-آلمان د همکاریو د تجربو او د افغان حکومت د پراخیتیایي لومړیتوبونو څخه په لاس راغلي دي

مونږ ښه حکومتولی د دولتي ظرفیتونو د سمون ورکولو، د اداري فساد سره د مبارزې او د پریکړې د نیولو په لړیو کې د خلکو د شاملولو له لارې هڅوو.
مونږ د پایښتونکي اقتصاد د پراختیا څخه ملاتړ کوو ترڅو په دې هیواد کې د میرمنو او نارینه وو د پاره د تولیدي کار او ګټې وټې دوامداره امکانات برابرشي په داسې حال کې چې حیاتي طبیعي سرچینې وساتل شي.
بنسټیزې روزنې او مسلکي زده کړې دې موخې ته د رسیدو مهم شرطونه ګڼل کیږي. زمونږ په آند د بېرته راستنیدونکو افغانانو دپاره د لرلیدونو منځته راوړل ځانګړی ارزښت لري.
مونږ د ښارونو پراختیا او د ولسوالیو بیخبناوو ته پراختیا ورکو تر څو بنسټیزو بیخبناوو ته د خلکو اړتیاوې سمون ومومي. دلته مونږ خپل پام د برښنا او اوبو برابرولو ته اړوو.

مونږ ټل خپل پروګرامونه په پرله پسې ډول د سختو عمومي شرایطو او د رواني امنیتي وضعې سره سم تنظیموو.

آلمان د افغانستان سره د پراختیایي همکاریو په چوکاټ کې د خپل ملاتړ بنسټیزې ژمنې یو ځل بیا تائیدوي. په بدل کې مونږ تمه لرو چې د افغانستان حکومت د ښې حکومتولۍ، د اداري فساد سره د مبارزې، د میرمنو حقونو او اقتصادي ګډون په اړه د اصلاحاتو د ترسره کولو لپاره خپلې ژمنې پوره کړي. په راتلونکي کې، به مونږ په افغاني اړخ کې د اصلاحاتو په ډګر کې د خپلو کارۍ شریکانو سره خپلو همکاریو ته په ځانګړې توګه پراختیا ورکړو او د روڼتیا، مالکیت او پراختیایي لورموندنې د ودې ورکولو په مؤخه به خپلې هڅونې په زیاته کچه وکاروو. په هغو سیمو کې چې د اصلاحاتو د پرمختګ هیڅ کومه نښه او ثبوت شتون ونلري، مونږ به خپل ملاتړ کم کړو یا به یې پایته ورسوو.

# په افغانستان کې وضعيت

له کله نه چې په ۱۳۸۹ کال کې په ي د طالبان وپرځېدل افغانستان يو بيسارۍ نړيوال ملاتړ تجربه کړ – پدې کې په ځانګړي ډول د آلمان لخوا چمتو شوي مرستې شامل دي، کوم چې په افغانستان کې په پراخ پوځي او ملکي هڅو کې ښکيل دي. دې هيواد د اقتصادي، ټولنيز او د ټولنې له پلوه د پام وړ پرمختګ کړی دی. د افغانستان د پراخو پرګنو د ژوند وضعيت د ۱۳۸۹ کال په پرتله د پام وړ سمون موندلی دی.

خو د دريو کلو راهيسې دغه مثبت پرمختګ نه يوازې ورو شوی دی، بلکه په يو شمير برخو کې مخ په ځوړ دی . لاس ته راغلې برياليتوبونه د خلکو د راتلونکو لرليدونو په څير د خطر سره مخامخ شوي دي. که څه هم د آلمان د پوځونو په شمول نړيوال پوځي ځواکونه د تير په شان د افغانستان په خاوره کې شتون لري او د افغانستان امنيتی ځواکونو ته تعليم، روزنه او سلامشوره ورکوي، خو طالبان او نورې وسله والې ډلې توانيدلي دي د ۱۳۹۳۲۰۱۴ کال راهيسې خپل د حاکميت سيمه پراخه کړي. افغان حکومت د خپل هيواد د يو شمير برخو کنټرول له لاسه ورکړی دی. د سولې او مصالحې بين الافغانی پروسه هم په ځوړ ده. اوس مهال، ديوې تلپاتې سولې هيلې لږ او د وسله والې جګړې دوام او پراخيدل شونی ښکاری.

د افغانستان اقتصادي پراختيا هم خپل تحرک له لاسه ورکړی دی. دا هيواد تر اوسه هم په نړيوالو مرستو پورې تړلی دی. د دولتي عوايدو کچه په سستۍ لوړيږي. د حقوقي داډ نشتواليی، اداري فساد او وسله والې شخړې په هيواد

کې د پانګونې مخه نيسي او په پايله کې يو شمير محدود کارځايونه منځته راځي. د هيواد نفوس د ملي اقتصاد په پرتله چابکه وده کوي چې په پايله کې کړکيچونه زياتيږي. د دولت ناتوانه او د لازم مهارت نه درلودونکي ظرفيتونه ښه حکومتولې د ستونزو سره مخامخ کوي. بشري حقونه، په تيره بيا د مېرمنو او کوچنيانو حقونه، د بيان او مطبوعاتو آزادي او دموکراټيکه برخه اخيستنه کله ناکله يوازې د کاغذ په مخ پاتې کيږي. افغان حکومت د پراختيا د پاره د اصلاحاتو يوه تګلاره پر مخامخ بيايي خو ډېرۍ وخت نه شي کولای دغه اصلاحات په واقعي ډول پلې‌کړي.

د افغانستان په زياتو سيمو کې د ټولنې ذهنيت اوس هم دوديز او محافظه کار دی چې د نورو عقايدو وګړی، اقليتونه او ښځې د تبعيض سره مخامخ کيږي. په عين حال کې، د لوستي، ځوان او ښاري وګړو يوه ټولنيزه ډله چې شمير يې په زياتيدو دی د خپل ځان او خپلو کورنيو د پاره د يوې ښې راتلونکي په لټه کې ده. خو د خلکو زيات شمير په حکومت باندې خپل باور له لاسه ورکړی، او د امنيتي وضعې د خرابيدلو څخه رنځ وړي، په افغانستان کې د ځان د پاره کومه راتلونکي نه ويني او غواړي چې خپل هيواد پريږدي تر څو – د اروپا په شمول – په کوم بل ځای کې د ځان د پاره يوه راتلونکې جوړه کړي.

د افغانستان سره د پراختيايي همکاريو عمومي چاپيريال هم ويجاړ شوی دی. د جګړه ايزو عملياتو، بريدونو او د خلکو د تښتونې د ګواښونو له امله اوس د پانګونې ټولې کړنې او د سلامشورې چارې د شديدو امنيتي اقدامونو په محاصره کې دي چې د نړيوالو کارپوهانو اوږدمهالې او تلپاتې پايلې لرونکی ي فعاليتونه د ستونزو سره مخامخ کوي.

# زمونږ د کړنو چوکاټ

د افغانستان د پراختيا لاره د يوې داسې ټولنې په لور چې پکې بشري حقونو، په تيره بيا د مېرمنو حقونو ته درناوی وشي، امنيت او همداراز د خلکو د بنسټيزو اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو پوره کول تضمين شي، حقوقي دولت ډاډ تأمين شي او ښاريانو ته د سياسي مشارکت امکانات برابرشي يوه ډيره اوږده او سخته لاره ده.
اروپايي ټولنهې هم د سياسي او اقتصادي پرمختګ او د ژوند چاپيريال د پراختيا دي کچې ته، کومه چې مونږ يې نن پېژنو او هغې ته ارزښت ورکوو، د څو پيړيو او ويجاړوونکو جګړو نه وروسته ته رسيدلي ده.
افغانستان د دې سفر په لړ کې بيا هم نړيوال ملاتړ ته اړتيا لري. آلمان د افغانستان د کنفرانس په ترڅ کې چې په ۱۳۹۵ کال کې په بروکسل کې جوړشوی وو په افغانستان کې خپلې ملکي ژمنې او همداراز د افغان حکومت د اصلاحاتو د لړۍ څخه خپل ملاتړ يو ځل بيا تائيد کړ. په لومړي سر کې، آلمان به تر ۱۳۹۹ کاله پورې افغانستان ته د ملکي بيارغونې او پراختيا په ډګرونو کې په کال کې ۴۳۰ ميليونه يورو برابرکړي. د هغې جملې څخه د آلمان د اقتصادي همکاريو او پراختيا وزارت (BMZ) به ۲۵۰ ميليونه يورو افغاننستان ته وسپاري. مونږ په افغانستان کې د کړنلارې په بيلابيلو سکتورونو کې ځان نړيوال مشارکت ته ژمن ګڼو. د دې ژمنې د تحقق لپاره د آلمان فدرال حکومت د وزارتونو تر منځ نږدې همغږي د بل هر مهال څخه ډير ارزښت لري.
آلمان د افغانستان د ټولو نړيوالو شريکانو مرستندويو ګامونو اغيزمنې همغږۍ ته ژمن دئ او د پانګوالو په خبرواترو کې په فعاله توګه ګډون کوي.
په افغانستان کې د آلمان د فدرال حکومت په ژمنه کې پراختيايي همکاري يو عمده رول لوبوي. دا همکاري د افغانستان د اقتصادي، سياسي او ټولنيزې پراختيا د اوږدمهالو بنسټونو په جوړولو کې د پام وړ برخه لري. په عين حال کې، پراختيايي همکارۍ د خپلو پايلو د ځرګندولو د پاره د بسيا امنيت يو چاپيرال ته اړتيا لري. د پراختيايي همکاريو اقدامونه نشي کولای د سولې د بهير په زور پلې کړی يا جګړه ايز عمليات ودروي. خو پراختيايي همکارۍ کولای شي د تاوتريخوالي او بېوزلۍ لاملونه ته رسيدګي ورکړي او په دې توګه په افغانستان کې اوږدمهاله سوله، ثبات او راتلونکي لرليدونه شونې.

# د اصلاحاتو د هڅوني په توګه زمونږ ملاتړ

د زیات شمیر ننګوونو سره سره، افغانستان د پراختیا د پام وړ پوتنسیالونه لري – د بیلګې په توګه: کاني سرچینې، د اوبو زیرمې، د نوي کیدونکي برښنا د تولید امکانات، د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا تر منځ، او د چین او د فارس خلیج ترمنځ سراتیژیک جغرافیایي موقعیت، او همداراز ځوان او د زده کړې لیوال وګړي. د نوموړو پوتنسیالونو څخه د ګټې د پورته کولو او د یوې تلپاتې پراختیا لپاره د هغو د کارولو په مؤخه د حکومت دریځونه باید د پراختیا پر بنسټ ولاړ وي.

افغان حکومت په دې حقیقت پوهیدلی او د اصلاحاتو یو مهم پروګرام ته ژمن دی چې په دې لاره کې د آلمان فدرال حکومت ورنه په هراړخیزه توګه ملاتړ کوي. په مقابل کې مونږ د دویم ستر دوه اړخیزه تمویلوونکي هیواد په توګه تمه کوو چې افغان حکومت د اصلاحاتو هوکړې شوې پروژې – په تیره بیا د اداري فساد سره د مبارزې، د نجونو او مېرمنو د ودې، د عامه ادارې د اصلاح کولو او د خصوصي سکټور د ښکلتیا لپاره د چاپیریال د رامینځته کولو په ډګرونو کې – پلې ی کړي. پخوا دا کار اغیزمن ثابت شوی دی چې د آلمان د پراختیایي همکاریو سرچینې په شرطونو پورې وتړل شي تر څو په دې توګه هم اصلاحات وهڅول شي او هم د هغو د پلیۍ کولو ژمنه وغوښتل کیږي.

مونږ به په راتلونکې کې هم د خپل ملاتړ یوه برخه د اصلاحاتو د پروژو په سرته رسولو پورې وتړو. زمونږ موخې د هغو اصلاحاتو د اجندا څخه سرچینه مومي کومه چې افغان حکومت د نړیوالې ټولنې سره وربانديې هوکړه کړې ده او وروسته بیا د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې چې په ۱۳۹۵ کال په بروکسل کې جوړه شوې وه، یو ځل بیا تائید شوه.

د نوموړې اجندا پر بنا افغان حکومت خپل ځان مکلف بولي چې ډموکراسۍ، حکومتولۍ، د فساد سره د مبارزې، د مېرمنو د حقونو او اقتصادي مشارکت په ډګرونو کې یو لړ پرمختګونه لاسته راوړي. په عین حال کې، د بانګه ورکونکي ټولنه دېته ژمنه ده چې د خپلو مرستو د پام وړ یوه برخه به د افغان حکومت د پروګرامونو له لارې پلې‌کوي.
مونږ به په راتلونکې کې خپله همکاري په مشخصه توګه د افغان لوري د شریکانو سره پراخه کړو او په عین حال کې به د ډونرانو د ګډو فعالیتونو او د ملي پراختیایي پروګرامونو څخه ملاتړ وکړو. په دې توګه مونږ روڼتوب، مالکیت او د پراختیا لورموندنه په زیاتیدونکي توګه هڅوو. مونږ به د خپل ملاتړ کچه په هغو ډګرونو کې چې د اصلاحاتو پرمختګ محسوس نه وي راټیټه کړو او یا به یې پایته ورسوو. برسیره پردې، چیرته چې اړتیا وي، مونږ به خپل ملاتړ د عملیاتي اقدامونو په پلې‌کولو، د بیلګې په توګه د مالیې او محصول د معافیت په اړه د هوکړو په پلې کولو یا د بنسټیزو پانګونو د حفاظت په مؤخه د ساتنې او څارنې د طرحو په تطبیقولو پورې وتړو.
مونږ غواړو د آلمان د فدرال حکومت د یوه هراړخیز چلند پر بنا په دې توګه د آلمان د نورو وزارتونو په نږدې همکارۍ په نړیواله ټولنه کې همغږي نوره هم پراخه کړو تر څو په افغانستان کې د اصلاحاتو څخه په لا ډیره اغیزمنه توګه ملاتړ وکړو.

۱. د افغان حکومت او د ډونرانو د ټولنې د اصلاحاتو ګډه اجندا د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په میاشت کې د افغانستان د غونډې په بهیر کې چې په بروکسل کې جوړه شوې وه د خپل بسیاتوب او دوه اړخیزې ځواب ورکونې په چوکاټ (Self-Reliance and Mutual Accountability Framework - SMAF) کې په تصویب ورسیده. د افغانستان په اړه د وزیرانو راتلونکې غونډه چې د ۲۰۱۸ کال د نوامبر په میاشت کې به په ژنیو کې جوړه شي، د نوموړي چوکاټ د راتلونکي سند په باب به د ژنیو د دوه اړخیزه ځواب ورکونې د چوکاټ (Geneva Mutual Accountability Framework - GMAF) تر نامه لاندې هوکړه وشي.

# زمونږ د کړنو او وسیلومؤخه

د افغان-آلمان د پراختیایي همکاریو مؤخه داده چې د افغانستان د خلکو د ژوند شرایطو او راتلونکي لرلیدونو ته په تل پاتې ي ډول سمون ورکړي او په دې توګه په دې هیواد کې د سولې، امنیت او دوامدارې ودې سره مرسته وکړي. د افغانستان پراختیایی اړتیاوې چې د افغان حکومت په پراختیایي لومړیتبونو کې هم نغښتې دي زمونږ د کړنو د ستراتیژیکې لورموندنې بنسټ جوړوي. مونږ د کار د ویش پر بناء او د نړیوالو شریکانو سره په همغږۍ د اصلاحاتو د اجنداء پر بنسټ چې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ وربانډې هوکړه شوې ده، عمل کوو.

مونږ خپله ژمنه د دولتي او څوارخیزه کانو او د مدني ټولنې د سازمانونو سره یوځای پلې کوو. دلته مهمه ده چې دا په ګوته شي چې په شته سختو شرایطو کې کوم ابزار د خلکو د ژوند د شرایطو د سمون ورکولو په لاره کې تر ټولو ښه مساعد دي. د آلمان پراختیایي همکارۍ په تیره بیا د پراختیامحوره اصلاحاتو د ځواکونو څخه ملاتړ کوي او د خپلو پروژو شریکان او پلې کوونکي د دې اصل سره سم ټاکي چې آیا هغوی د خلکو د ژوند د شرایطو د سمون ورکولو او د افغانستان د راتلونکې لرلیدونو سره په اوږدمهال کې مرسته کوي او که نه.
آلمان به د خپلې پراختیایي همکارۍ د فعالیتونو له لارې په راتلونکې کې هم افغان حکومت د هغه د دندو په ترسره کولو کې پیاوړی کړي. په راتلونکې کې، به مونږ دې خبرې ته ډیر زیات ارزښت ورکړو چې خلک د پراختیایی بریالیتوبونو څخه لاډیرې مستقیمې ګټې پورته کړي.

# د همکاریو په ډګر کې لومړیتوبونه چې مونږ ورنهې ملاتړ کوو

افغانستان د پراختیا یو پراخ ملاتړ ته اړتیا لري. د افغانستان سره د آلمان پراختیایی همکارۍ په ځانګړې توګه اړونده اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو مسایلو ته پام کوي او په راتلونکې کې به په دریو برخو تمرکز وکړي: ښه حکومتولي، تلپاتې اقتصادي ، او ښاري پراختیا او د ولسوالیو بیخبناوې. برسېره پردې، د لومړیتوب لرونکو ډګرونو څخه بهر به مونږ په راتلونکې کې د بنسټیزې زده کړې د پیاوړتیا د پروګرامونو، او همدارنګه د په کور دننه ي بې ځایه شویو خلکو او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو او آلمان څخه د بیرته راستانه شویو کډوالو د ادغام څخه ملاتړ وکړو.

### مونږ د ښې حکومتولۍ څخه ملاتړ کوو

افغانستان تر اوسه هم د داسې فعالو او اغیزمنو دولتي نهادونو د نشتوالي سره مخامخ دئ کوم چې خلک په هغو باندې ویسا او باور وکړای شي. په تیره بیا د هیواد په کلیوالي سیمو کې د حکومت شتون په بسیا توګه غښتلی نه دئ او دولت اغلباً په دې موقف کې ندئ چې د امنیت، حقوقي ډاډمنتیا او ټولنیزو خدمتونو د تضمینوونکي په توګه خپل رول ولوبوي.

د ښې حکومتولۍ په ډګر کې زمونږ د هڅو مؤخه داده چې د دولتي جوړښتونو اجرایي توان ته سمون ورکړو. برسیره پردې، مونږ غواړو مرسته وکړو چې خلک د پریکړو په لړیو کې لازیات رابښکیل شي. عدالت ته د خلکو لاسرسئ او د اداري فساد سره د مبارزې په شمول د عامه ادارې د جوړښتونو پیاوړي کول زمونږ د کار په مرکز کې شتون لري. دلته د مېرمنو ودې، د مېرمنو حقونو او د مېرمنو د پاره برابرو فرصتونو ته ځانګړې پاملرنه کیږي. افغانستان د نجونو او مېرمنو اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پوتنسیال ته اړه لري.

**د قانون د واکمنۍ پیاوړي کول:** د عدالت تامین او د قانون د واکمني د اصولو رعایت هغه اړتیاوې دي چې د افغانستان وګړي د یوه فعال دولت څخه تمه لري چې هغه پوره کړي. له دې کبله، مونږ به د هغو فعالیتونو ملاتړ زیات کړو چې پر خلکو باندې مستقیمه اغیزه ولري. له همدې امله، د آلمان پراختیایي همکارۍ غواړي چې حقوقي خوندیتوب برابرکړي. د بیلګې په توګه، مونږ به د خلکو په تیره بیا د

مېرمنو لپاره د حقوقي معلوماتو د برابرلو او حقوقي مرستو کچه لوړه کړو. مونږ د حقوقو د ځانګې زده کوونکو ته د عملي روزنې د ورکولو له لارې د حقوقي زده کړو کیفیت ته سمون ورکوو.

**د اداري فساد سره مبارزه:** د افغانستان حکومت د اداري فساد سره مبارزه خپل د تر ټولو مهمو موخو څخه یوه مؤخه اعلان کړې ده. د پلوي پالنې او ناسم مدیریت د مخنیوي یوازینۍ لاره داده چې دولتي اداري په شفافه توګه کار وکړي او د ښاریانو په وړاندې ځواب و یونکیي وي. له همدې امله، مونږ به افغان حکومت ته د اداري فساد ضد دریځونو په طرحه او تطبیقولو کې سلامشوره ورکړو. د کان ایستنې په سکتور کې، افغان حکومت د کانونو د غیرقانوني کیندنو او اداري فساد له امله په زیاته پیمانه دولتي عواید له لاسه ورکوي، او ترهګر سازمانونه هم خپل فعالیتونه د طبیعي کانونو د غیرقانوني استخراج له لارې تمویلوي. آلمان د سرچینو د شفافي حکومتولی څخه د بیلګي په توګه د کانونو د کیندنې د څارنې د سمون او د منرالي سرچینو لپاره د افغانستان د رونتوب د نوښت د ودې له لارې ملاتړ کوي.

**د اداري جوړښتونو پیاوړي کول:** په افغانستان کې د آلمان د ژمنې د ترټولو مهمو سیاسي موخو څخه یوه مؤخه داده چې د افغان دولت په استقرارولو او د هغه د اجراآتو د کچې د لوړولو په لاره کې مرسته وکړي – تر څو دا دولت وکولای چې بنسټیز ټولنیز خدمتونه هم خلکو ته برابر کړي. له دې کبله مونږ به په راتلونکي کې هم د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق (ARTF) څخه چې د نړیوال بانک په مشرتابه پرمخ بوول کیږي ملاتړ وکړو او په دې ترتیب به د افغان حکومت د پراختیایي لومړیتوبو پلي کول په خوځښت راولو. د نوموړي صندوق تادیات د اصلاحاتو د تګلارو او د ښې حکومتولی د اصولو د ځانګړي تطبیق سره نیغ په نیغه تړاو لري. مونږ به د مرکزي حکومت په کچه د اصلاحاتو د لړیو د طرحه کولو او تطبیقولو په مؤخه د افغاني نهادونو د ظرفیتونو د پیاوړي کولو ملاتړ ته هم په انعطاف منونکي توګه دوام ورکړو. د بیلګي په توګه: مونږ د کانونو د وزارت د جندر د ستراتیژۍ څخه ملاتړ کوو او د ښځینه کارکوونکو تخنیکي او مدیریتي ظرفیتونه پیاوړي کوو.

د دولت او د هغه د نهادونو په نسبت د خلکو د باور کچه د تیرو لسو کلونو په پرتله تر ټولو ټیټه ده. د دې بایللي باور د بیا په لاس راوړلو په مؤخه باید خلک مشخص پراختیایي بریالیتوبونه په تیره بیا په کلیو او بانډو کې احساس کړي. له دې امله باید اداري جوړښتونه په تیره بیا په کلیوالي سیمو کې غښتلي شي. د آلمان د پراختیایي همکارۍ دریځونه به د محلي ادارو د ظرفیتونو د پراخولو سره مرسته وکړي، د بنسټیزې بیخبنا برابرولو ته به سمون ورکړي او د خلکو سیاسي ونډه اخیستنه به ټینګه کړي.

**د مدني ټولنې پیاوړی کول:** مدني ټولنه باید د پخوا په پرتله په لاښه موقف کې وي چې د دولتي ادارو څخه د رونتیا غوښتنه وکړي. له همدې امله، مونږ به په راتلونکي کې هم د مدني ټولنې د سازمانونو سره کار وکړو او هغو ته به په دې باب سلامشوره ورکړو چې څنګه په حکومتي لړیو کې په لاښېره توګه ګډون وکړي او په دې توګه خپل مدني حقونو ته تحقق ورکړي. مونږ به د خپلو پروګرامونو د پلپکولو په بهیر کې د مدني ټولنې سازمانونو ته په زیاتیدونکي ډول برخه ورکړو او د هغوی د سیاسي توانمندۍ څخه به ملاتړ وکړو تر څو هغوی وکولای شي د بدلون د تمثیل کوونکو په توګه خپل رول ترسره کړي.

## مونږ د تلپاتي اقتصاد د پراختیا او د کارجوړونې د هڅو څخه ملاتړ کوو

د تلپاتي اقتصاد په ډګر کې د آلمان د پراختیایي همکارۍ مؤخه داده چې د افغانستان د نارینه وو او مېرمنو دپاره د دوامداره تولیدي کار امکانات او کتبي فرصتونه منځته راوړي او په ورته وخت کې د ژوند طبیعي سرچینې خوندي وساتي.
د خلکو د ژوند شرایطو ته نیغ په نیغه سمون ورکول به په راتلونکي کې لازیات ارزښت پیداکړي. مونږ به د پخوا په شان خپلو افغاني شریکانو ته سلامشوره ورکړو چې څنګه دوی کولای شي د اقتصاد توان ورکوونکي چاپیریال ته سمون ورکړي. خو مونږ به خپل پام د حیاتي طبیعي سرچینو خوندي ساتلو او د کارجوړونې د ودې او د عوایدو د منځته راوړنې د بریالیو چلندونو پراخولو ته متمرکز کړو. برسیره پردې، مونږ د "Returning to New Opportunities" تر نامه لاندې د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) د پروګرام له لارې د هغو افغانانو د پاره په افغانستان کې د یوه نوي پیل لپاره فرصتونه برابر کړو چې په آلمان کې د پاتې کیدو شانس نلري او یا نه غواړي چې هلته پاتې شي. د بیلګې په توګه، مونږ د هغو سره په روزنیزو کورسونو کې د ځای د په لاس راوړلو او د کار د پیل د پروګرامونو په لټولو کې مرسته کوو.
د افغانستان کابو نیم نفوس د ۱۵ کالو نه لږ عمر لري. هر کال، نیم میلیون ځوان افغانان چې ډیری یې هیڅکله ښوونځي ته تللي ندي او یا یې هم خپله زده کړه نده بشپړه

مونږ به لازیاته هڅه وکړو چې زمونږ د فعالیتونو له لارې د هغو سره هم مرسته وشي او په خپلو پروګرامونو کې به مشخص خپل کړو چې په ځانګړې توګه په ځوانانو پورې اړه ولري.

**د کرنیزو تولیداتو هڅونه:** د افغانستان اکثریت خلک د کرنې په چارو بوخت دي. خو په دې ډګر کې مولدیت یوازې په ډیره ټیټه کچه کې دی او په بشپړشویو تولیداتو باندې د پروسس له لارې د محصولاتو بدلول ډیر لږ دی. برسیره پردې، د افغانی د پیسو ترحدزیاته ارزونه د کورنیو محصولاتو د سیالي د وړتیا کچه راټیټوي. همدارنګه بزګران ډیرې وخت د ښاري سیمو بازارونو ته د لاسرسی د نشتوالي سره مخامخ دي. په عین حال کې کرنه د فعاله اوبلګولو سره خورا تړاو لري. خو د اوبلګولو د بیخبنا ډخه په بسیا کچه ساتنه او ځارنه نه کیږي او یو څه برخه یې له منځه تللي ده. مونږ خپلې هڅې د ارزښت په هغو تولیدي ځنځیرونو متمرکزوو چې د وارداتو د ځای نیولو پوتنسیال لري لکه غنم، سابه، د چرګانو غوښه، شیدې او زړي. مونږ د اوبلګولو بیخبنا او د تولید د وسیلو برابرولو ته او د کرنیزو تولیداتو چمتوکولو، ساتلو، پروسس او بازار میندلی ته سمون ورکوو. په دې توګه، مونږ د هغو شرکتونو د اوږدمهاله تولیدي اشتغال د لا زیاتو فرصتونو د منځته راوړلو او د ګټو د زیاتولو په لاره کې پرله پسې مرسته کوو کوم چې سبسایدي (مالی ونډه) په لاس راوړي.

**د شخصي کارونو د پیل او د کوچنیو او منځنیو شرکتونو ملاتړ:** د افغانستان زیاد شمیر خلک او همداراز زیاد کوچني او منځني شرکتونه بانکي پورونو ته لاسرسئ نلري. په پایله کې، اغلباً کوچنی پانګوني، د بیلګې په توګه، د یوه شخصي سوداګریو لپاره د کار وسیلي یا د کرنیزو محصولاتو د پروسس لپاره ماشین آلات، د مالي ونډو د نشتوالي سره مخامخ کیږي. برسیره پردې، اغلباً د یوې سوداګرۍ پیل کول یا پراخول هم د مدیریتي او تخنیکي مهارتونو د نشتوالي له امله ناکامیږي. په همدې سبب، مونږ مالي خدمتونو ته د لاسرسي د کچې د لوړولو په مؤخه، د بیلګې په توګه، د میکروفایننانس د محصولاتو، راز راز کریډیټونو او د کوچنیو او منځنیو سوداګریو د پاره د رهني تضمینونو له لارې کارکوو. برسیره پردې، مونږ د روزنې او د زده کړې د دوام ځاییز لاسرسی ته سمون ورکوو. د نوموړو کارونو په واسطه مونږ د سوداګریو لادیرو فرصتونو او ګټو زیاتولو ته لاره پرانیزو.

**د کار د بازار د اړتیاوو سره سم د مسلکي زده کړو چمتو کول:** د وزګارۍ د لوړې کچې سره سره، افغانستان د ماهرو کارګرانو د نشتوالي څخه رنځ وړي. یوازې پنځه سلنه افغان ځوانان کولای شي په رسمي مسلکي زده کړو کې برخه واخلي. د دغو زده کړو کیفیت اکثراً کمزورې دی او د بازار د اړتیاو سره یې سمون ندی موندلی. له همدې امله، د دې ډول زده کړو فارغان اغلباً په کارموندنه کې نه بریالي کیږي. په عین حال کې، د ځوانانو د پام وړ یوه برخه د شاګردانو په نامه کارکوي. مونږ د ظرفیت جوړونې او بنسیټیزو درځونو له لارې د مسلکي زده کړو د کیفیت په سمونتیا او د کار د بازار د اړتیاوو سره د هغوی دتطابق په ډګر کې مرسته کوو. مونږ همداراز فعال شته جوړښتونه لکه د استاد-شاګردي دودیزې روزنې کاروو او هغه پراخوو. په دې توګه مونږ د هغو زده کوونکو د ګټو فرصتونو ته سمون ورکوو چې د بشپړې ورځې سمون ورکړل شوې روزنه مومي یا هغه شاګردان چې د کار د ترسره کولو په ترڅ کې د نیمه ورځې په روزنه بوخت دي.

**د حیاتي طبیعی سرچینو ساتنه:** د څو لسیزو وسله والو جګړو په لړ کې د افغانستان طبیعي سرچیني په په سمه توګه ندي مدیریت شوې. د بیلګې په ډول، د افغانستان ځنګلونه د هیواد د خاورې دوه سلنې ته راټیټ شوي دي. د کروندو یوه زیاته برخه د خاورې د شړیدلو او ویجاړیدلو له امله په ډیر کمزورې حالت کې ده. دا کار د محصولات د لږیدو سبب ګرځي چې په پایله کې د ځایي اوسیدونکو ژوند ګواښوي. په عین حال کې، د دې خطر شتون لري چې د طبیعي سرچینو تشول به قومي اختلافونو ته لمن ووهي او وارداتو ته تړاو زیاتوي. له دې امله، مونږ به په راتلونکي کې د ځایي خلکو سره یوځای د کار د سرچینو د ساتلو د اقداماتو په اړه کار وکړو. مؤخه دلته داده چې د ځایي تولنو د پاره نورې سرچیني او پایښتونکي عواید منځته راشي.

## مونږ د ښارونو د پراختیا او د ولسوالیو د بیخبناوو څخه ملاتړ کوو

د ښارونو په پراخولو او د ولسوالیو په بیخبناوو کې د آلمان د کړنو مؤخه داده چې خلکو په تیره بیا زیان منونکو ډلو ته د بنسټیزې بیخبنا برابرول سمون وموومي او د ښارونو او کلیو او باندو د پایښتونکي پراختیا په لاره کې مرسته وشي. په افغانستان کې عامه بیخبناوو، خدمتونو او کورونو ته د خلکو لاسرسی، د ټول پرمختګ سره سره چې صورت یې موندلی دی، تر اوسه هم، په تیره بیا په کلیوالي سیمو کې ډیر محدود دئ. د ښناک د پاکو او ارزانو اوبو برابرول لږ دی، د اوبورسوني لګښت ډیر لوړ دی او د سمون ورکړل

کړي د کار بازار ته درومي. دا چې دا ډله ځوانان تر ټولو زیات د راتلونکي لرلیدونو د نشتوالي له کبله اغیزمنیږي، مونږ به لازیاته هڅه وکړو چې زمونږ د فعالیتونو له لارې د هغو سره هم مرسته وشي او په خپلو پروګرامونو کې به مشخص خپل کړو چې په ځانګړې توګه په ځوانانو پورې اړه ولري.

**د کرنیزو تولیداتو هڅونه:** د افغانستان اکثریت خلک د کرنې په چارو بوخت دي. خو په دې ډګر کې مولدیت یوازې په ډیره ټیټه کچه کې دی او په بشپړشویو تولیداتو باندې د پروسس له لارې د محصولاتو بدلول ډیر لږ دی. برسیره پردې، د افغانۍ د پیسو ترحدزیاته ارزونه د کورنیو محصولاتو د سیالي د وړتیا کچه راټیټوي. همدارنګه بزګران ډېرې وخت د ښاري سیمو بازارونو ته د لاسرسی د نشتوالي سره مخامخ دي. په عین حال کې کرنه د فعاله اوبولګولو سره خورا تړاو لري. خو د اوبولګولو د بیخبنا څخه په بسیا کچه ساتنه او څارنه نه کیږي او یو څه برخه یې له منځه تللي ده. مونږ خپلې هڅې د ارزښت په هغو تولیدي ځنځیرونو متمرکزوو چې د وارداتو د ځای نیولو پوټنسیال لري لکه غنم، سابه، د چرګانو غوښه، شیدې او زړې. مونږ د اوبولګولو بیخبنا او د تولید د وسیلو برابرولو ته او د کرنیزو تولیداتو چمتوکولو، ساتلو، پروسس او بازار میندنې ته سمون ورکوو. په دې توګه، مونږ د هغو شرکتونو د اوږدمهاله تولیدي اشتغال د لا زیاتو فرصتونو د منځته راوړلو او د ګټو د زیاتولو په لاره کې پرله پسې مرسته کوو کوم چې سبسایدي (مالی ونډه) په لاس راوړي.

**د شخصي کارونو د پیل او د کوچنیو او منځنیو شرکتونو ملاتړ:** د افغانستان زیاد شمیر خلک او همداراز زیاد کوچني او منځني شرکتونه بانکي پورونو ته لاسرسئ نلري. په پایله کې، اغلباً کوچنی پانګونې، د بیلګې په توګه، د یوه شخصي سوداګریو لپاره د کار وسیلې یا د کرنیزو محصولاتو د پروسس لپاره ماشین آلات، د مالي ونډو د نشتوالي سره مخامخ کیږي. برسیره پردې، اغلباً د یوې سوداګرۍ پیل کول یا پراخول هم د مدیریتي او تخنیکي مهارتونو د نشتوالي له امله ناکامیږي. په همدې سبب، مونږ مالي خدمتونو ته د لاسرسي د کچې د لوړولو په مؤخه، د بیلګې په توګه، د میکروفاینانس د محصولاتو، راز راز کریډیټونو او د کوچنیو او منځنیو سوداګریو د پاره د رهنې تضمینونو له لارې کارکوو. برسیره پردې، مونږ د روزنې او د زده کړې د دوام ځاییز لاسرسی ته سمون ورکوو. د نوموړو کارونو په واسطه مونږ د سوداګریو لاډیرو فرصتونو او ګټو زیاتولو ته لاره پرانیزو.

**د کار د بازار د اړتیاوو سره سم د مسلکي زده کړو چمتو کول:** د وزګارۍ د لوړې کچې سره سره، افغانستان د ماهرو کارګرانو د نشتوالي څخه رنځ وړي. یوازې پنځه سلنه افغان ځوانان کولای شي په رسمي مسلکي زده کړو کې برخه واخلي. د دغو زده کړو کیفیت اکثراً کمزورۍ دی او د بازار د اړتیاو سره یې سمون ندی موندلی. له همدې امله، د دې ډول زده کړو فارغان اغلباً په کارموندنه کې نه بریالي کیږي. په عین حال کې، د ځوانانو د پام وړ یوه برخه د شاګردانو په نامه کارکوي. مونږ د ظرفیت جوړونې او بنسیټیزو درځونو له لارې د مسلکي زده کړو د کیفیت په سمونتیا او د کار د بازار د اړتیاوو سره د هغوی دتطابق په ډګر کې مرسته کوو. مونږ همداراز فعال شته جوړښتونه لکه د استاد-شاګردي دودیزې روزنې کاروو او هغه پراخوو. په دې توګه مونږ د هغو زده کوونکو د ګټو فرصتونو ته سمون ورکوو چې د بشپړې ورځې سمون ورکړل شوې روزنه مومي یا هغه شاګردان چې د کار د ترسره کولو په ترڅ کې د نیمه ورځې په روزنه بوخت دي.

**د حیاتي طبیعي سرچینو ساتنه:** د څو لسیزو وسله والو جګړو په لړ کې د افغانستان طبیعي سرچینې په په سمه توګه ندي مدیریت شوي. د بیلګې په ډول، د افغانستان ځنګلونه د هیواد د خاورې دوه سلنې ته راټیټ شوي دي. د کروندو یوه زیاته برخه د خاورې د شړیدلو او ویجاړیدلو له امله په ډیر کمزوې حالت کې ده. دا کار د محصولات د لږیدو سبب ګرځي چې په پایله کې د ځایي اوسیدونکو ژوند ګواښوي. په عین حال کې، د دې خطر شتون لري چې د طبیعي سرچینو تشول به قومي اختلافونو ته لمن ووهي او وارداتو ته تړاو زیاتوي. له دې امله، مونږ به په راتلونکي کې د ځایي خلکو سره یوځای د کار د سرچینو د ساتلو د اقداماتو په اړه کار وکړو. مؤخه دلته داده چې د ځایي ټولنو د پاره نورې سرچینې او پایښتونکي عواید منځته راشي.

# د کړنې اصول: زمونږ د کار څرنګوالي

د آلمان پراختيايي همکاري  کار د لاندې اصولو پر بنا پرمخ بوول کيږي:

**د اداري فساد سره مبارزه:** د اداري فساد د کچې د راټيټولو او مخنيوي  دپاره ستراتيژي  زمونږ د ټولو اقداماتو يوه مهمه برخه جوړوي. مونږ په خپلو عملياتي کړنلارو او کاري اوصولو  کې د روڼتيا  او مخنيوي اصول تامينوو او دا اصول، د بلېکي په توګه د ازادي سيالۍ  او د قراردادونو د ورکولو په کړنلارو کې، د خپلو افغاني شريکانو سره کاروو.

**زمونږ د کارپوهانو مصؤنيت لومړيتوب لري:** د کورنيو او نړيوالو کارپوهانو د خونديتوب لپاره زمونږ د ستراتيژۍ يوه برخه د افغانانو له خوا په لوړه کچه زمونږ د  دريځونو د منلو تامينول دي. دا چلند په ساتندويه، مؤخه ايزو اقداماتو بشپړ کيږي چې په هغو کې د اضطراري حالاتو او سختو شرايطو لپاره پياوړي پلانونه شامل دي.

**د شخړې سره حساس چلندونه:** مونږ د خپلو پروژو د طرحه کولو او پلي کولو دپاره اړونده چاپيرال او خطرونه سپړو چې په هغه کې د لوبغاړو ، د شخړې د ليکو او د هغوي د خوځوونکو ځواکونو او همدارنګه د پراختيا د پوټنسيالونو او خنډونو پيژندل او پوهيدل شامل دي. د سولې او شخړې ارزونې (Peace and Conflict Assessments) د پروګرامونو د طرحه کولو او پلي کولو مهمه برخه جوړوي.

**امنو ولايتونو او ولسواليو ته د پام تمرکز:** په راتلونکې کې مونږ غواړو په خپل کار کې خپل پام امنو سيمو ته واړوو، ځکه اغيزمنه پراختيايي همکارۍ د لړترلږه امنيت غوښتونکې ده. له دې امله، د امنيت په بحراني يا لړزانده سيمو کې به مونږ يوازې په استثنايي مواردو کې کار وکړو. د افغانستان شمال او پلازمېنه کابل د افغانستان سره د آلمان د پراختيايي همکارۍ محراق جوړوي.

**د انعطاف منونکو او پرانيستو پروژو طرحه کول – هم د طرحې د مفکورې او هم د سيمې له پلوه:** مونږ خپلې ټولې پروژې دومره پرانيستي او لږ پيچلي طرحه کوو چې هم د طرحې او هم د مالي چارو له پلوه د نويو عمومي شرايطو او د امنيت د يوې بدليدونکې وضعې سره په چټکيا او په انعطاف منونکې توګه تطابق ورکړل شي. مونږ همدارنګه

د څارنې او مديريت د سيستمونو په جوړولو پيل کړې دی چې په تيره بيا د بيخبنايي پروژو په اړه د ليرې واټن څخه کار  شونې کوي. مونږ به د پروژو د پلي کولو په ډګر کې د کورنيو کارکوونکو او ماهرانو رول نور هم پياوړي  کړو تر څو د کار مسئوليت په پرله پسې توګه افغاني لاس ته وسپارو.

**د محلي جوړښتونو پياوړي کول:** مونږ به پريکړه کوونکي محلي جوړښتونه پياوړي کړو او هغوی به په زياتيدونکي ډول زمونږ د اقدامونو د پلېکولو په بهير کې، د بلېکي په توګه، د پلان جوړونې د پريکړو او د ګټو د ټکر د له منځه وړلو په هڅو  کې شامل کړو. ودانيزو کارونه به تر هغه ځايه پورې چې ممکن وي د محلي کارګرو له خوا د ځايي ودانيزو توکو په کارولو ترسره شي تر څو د پروژې په هماغه سيمه کې د خلکو دپاره کارځايونه او عوايد منځته راشي.

**په اوږد مهال کې د پانګونو تضمينول:** مونږ ته د ټولو روانو بيخبنايي پروژو بشپړول – تر هغه ځايه پورې چې امنيتي وضعه اجازه ورکړي – او د سيستمونو او کارخانو دوامداره فعاليت چې مونږ پخوا هلته پانګونه کړيده، لوړ لومړيتوب لري. له همدې امله، په دې خبرې باندې به لاډير ټينګار وشي چې د فعاليت او ساتنې او څارنې د ستراتيژيو طرحه کول او پراخول د شته دريځوونو يوه حتمي برخه او د نويو پانګونو شرط وګرځي. د يوې پروژې د طرحه کولو د بهير په پيل کې بايد په دې فکر وشي چې څنګه افغاني دولتي شريکان کولای شي وروسته د روانو پروژو دنده په غاړه واخلي. دا يو له هغو دلايلو څخه دی چې ولې مونږ د مسلکي زده کړو د لوستونو محتوا د هغو وړتياوو او مهارتونو سره همغږه کوو چې زمونږ د لومړيتوب په سکتورونو کې اړين دي. په دې توګه، مونږ په اوږدمهال کې دا تامينوو چې بسيا شمير افغاني کارپوهان به د هغو سيستمونو او کارخانو د  تلپاتي  مديريت لپاره شتون ولري چې زمونږ په پانګونو تمويل شوي دي.

**د پايلو رسونه او څارنه:** مونږ د دوديزو او ټولنيزو رسنيو څخه کټه پورته کوو چې خپل غږ د خلکو غوږونو ته ورسوو، خپل کار هغوی ته تشريح کړو او د هغو ملاتړ او منل په لاس راوړو. مونږ د خپلو کړنو پايلې ثبتوو او  اندازه کوو تر څو د خپل چلند ستراتيژي وارزوو، خپلې کړنې وځيړو او د افغان-آلمان د پراختيايي همکاريو  طرحه او بنه په دوامداره توګه لا پراخه کړو

د آلمان د اقتصادي همکاريو او پراختيا وزارت (BMZ)، د ۲۰۱۸ کال ۳مه ګڼه
افغانستان
د افغانستان سره د پراختيايي همکارۍ په اړه د آلمان دريځ

خپروونکي
ثانکه ۳۱۲ (بخش افغانستان، پاکستان)

ډيزاين
Atelier Hauer + Dörfler GmbH

نېټه
جولای سال ۲۰۱۸

زمونږ پته
**BMZ Bonn**
Dahlmannstraße 4
53113 Bonn, Deutschland
Tel. +49 (0) 228 99 535-0
Fax +49 (0) 228 99 535-3500
**BMZ Berlin**
Stresemannstraße 94
10963 Berlin, Deutschland
Tel. +49 (0) 30 18 535-0
Fax +49 (0) 30 18 535-2501

اړيکه
poststelle@bmz.bund.de
www.bmz.de

